مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(دری اتیاېمه برخه)

### محمد عثمان پښتون

په ۱۸۸۷ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د چمن او بمبئـي د شپې په ښوونځیو کې ئـې زده کړې کړي دي. په ۱۹۱۹ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. د طلوع افغان لپاره ژباړونکی. د کندهار د مطبوعاتو د ریاست رسمي کارمند. د کندهار ښاروال. په ۱۹۳۳ز کال کې د پښتو ټولنې رئیس. د معارف د وزارت د معارف د ریاست غړی. لیکوال او شاعر.

### اسدالله پیام

د کابل ښاروالی د روغتیایي چارو د ریاست رئیس. ږ غوایي له پاڅون وروسته د کابل ښاروال.

### محمد علي پیام

ږ چنداول د شیعه روحانیونو د غړي ږ خلیفه غلام حسن زوی په ۱۹۲۹ز کال کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسې کې او د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې ئـې زده کړې کړي دي. د ږتنکیو ځوانانو د خلاف رفتاریو د محکمې [1] رئیس. په ۱۹۸۱ز کال کې مشهد ته لاړ.

### عارف پژمان

په ۱۹۴۹ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د ژورنالیزم له څانګې فارغ سوی دئ. د ګڼ شمېر داستانونو او مقالاتو لیکوال. په تهران کې ئـې د خپلې دکتورا په ځینو برخو باندې کار کړی دئ.

[1] - Juvenile Delinquency Court


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## استاد عبدالرحمن پژواک

د ننگرهار د سرخروډ د باغباني د سيمي د قاضي عبدالله زوی په ۱۹۱۹ز کال کي په غزني کي زېږېدلی دئ. د ننگرهار په خوگيانيو کي د بالاباغ او ,کږی[2] په ښوونځيو کي او د کابل په حبيبيي ليسي کي ئي زده کړې کړي دي. . د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي دوه کاله ئي لوستي دي. له شخصي اساتيدو سره ئي اسلامي شريعت او پارسي ادبيات لوستي دي. په پښتو او دري کي شاعر او ليکوال ,له ۱۹۴۳ز کال مخکي اشعار او ليکني ئي د ,ارمانجن, په مستعار نوم وې, د افغان تأريخي ټولني لپاره خپلواک او مستقل ژورناليست او ژباړونکی. د افغان تأريخي ټولني/ انجمن تأريخي افغان غړی. د مطبوعاتو د رياست کشر ډايرکتر[3].په ۱۹۳۹ز کال کي د **اصلاح** محرر. په ۱۹۴۱ز کال کي د پښتو اکاډيمی عمومي رئيس. د باختر خبري آژانس رئيس. په ۱۹۴۳ز کال کي د مطبوعاتو د رياست د نشراتو عمومي رئيس. په ۱۹۴۶ز کال کي په لندن کي د افغان ديپلوماتيک استازيتوب[4] اتشه. په ۱۹۴۷ز کال کي د کاناډا په پلازميني آټاوا کي د کار د نړی وال سازمان د مطبوعاتو او معلوماتو غړی. په ۱۹۴۸ز کال کي په واشنگټن کي په افغان سفارت کي مطبوعاتي اتشه؛ او په ۱۹۵۱ز کال کي په لندن کي ,او همدلته ئي د پښتونستان رسالي وليکلي,. په ۱۹۵۴ز کال کي د باندنيو چارو د وزارت د سياسي چارو د دريمي څانگي او د ملگرو ملتونو د چارو مدير. د کابل پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کي د ژباړي د هنر مدرس. په ۱۹۵۵ز کال کي د باندنيو چارو د وزارت د سياسي چارو عمومي مدير. په ۱۹۵۸ز کال کي په ملگرو ملتونو کي د افغانستان استازی. په ۱۹۵۵ز کال کي ئي په باندونگ کي گډون وکړ او په ۱۹۶۱ز کال کي ئي په بلگراد کي د ناپييلو هېوادونو په کنفرانس او په ۱۹۶۵ کي ئي په قاهري کي، او په ۱۹۷۳ز کال کي د الجزاير په کنفرانس کي گډون وکړ. په ۱۹۶۳ز کال کي د ملگرو ملتونو د بشري حقونو د کميسيون رئيس. په ۱۹۶۶ز کال کي د ملگرو ملتونو د يوويشتمي عمومي اسامبلې رئيس. په ۱۹۷۳ز کال کي په بن کي د افغانستان سفير. په ۱۹۷۳ز کال کي په نوي ډيلي کي د افغانستان سفير. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پوري په لندن کي د افغانستان سفير. په ۱۹۷۸ز کال کي استعفی ورکړه او افغانستان ته راستون سو. د تره کي د رژيم پر مهال په کور کښېنول سو او تر نظارت لاندي وو. په ۱۹۸۲ز کال کي له افغانستانه د صحي معاذيرو له کبله د درملني لپاره ووت. په پاکستان کي په افغان مقاومت کي فعال وو او دلته يو ځل بيا په کور کښېنول سو او تر نظارت لاندي ونيول سو. له ۱۹۸۳ز کال راهيسي په واشنگټن ډي سي کي د ملگرو ملتونو مهاجر[5] دئ. شاعر او د گڼ شمېر آثارو مؤلف. د رابندرنات تاگور اشعار ئي له انگليسي څخه دري ته وژباړل. په کابل کي ئي د خپل ديوان يوازې يوه برخه چاپ کړي ده. د ,افسانه های مردم, په نوم ددۀ د ۱۹۵۸ز کال کلکسيون په پاريس کي قسماً فرانسوي ته ژباړل سوی دئ.

---

2 -Kaja

3 - junior director

4 -Afghan Legation in London: دلته د Legation لپاره ما معادله معنی ونـۀ موندله چي له سفارت يا Embassy څخه لږ راټيټ دئ. - ژ

5 -As a UN Refugee



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## عتیق الله پژواک

د ننګرهار د قاضي عبدالله زوی، د عبدالرحمن پژواک سکهورور او د فضل الربي پژواک ناسکه ورور. ښوونکی. د حبیبیې په لیسې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې ئـې تحصیلات کړي دي. د آریانا مجلې محرر. د معارف د وزارت د تألیف د ریاست غړی. د ‎(فرانکلین بوک د پروګرامونو)[6]‎ د تعلیم او تربیې د مطبوعاتو رئـیس. متقاعد. مورنی ژبه ئـې پښـتو ده.

## پوهاند فضل الربي پژواک

د ننګرهار د سرخرود د باغباني د سیمې د قاضي عبدالله زوی په ۱۹۲۹ز کال کې د خوګیانیو د کړې په سیمې کې زیږیدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د حبیبیې له لیسې او په ۱۹۵۰ز کال کې د کابل پوهنتون د سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د فیلو شیپ تر بیلابیلو پروګرامونو لاندې ئـې د امریکا په متحده ایالاتو، ډنمارک، سویډن، د شوروي په اشتراکیه سوسیالیستي جماهیرو کې او برتانیې کې تحصیلات وکړل. په ۱۹۵۰ز کال کې د حقوقو په پوهنځي کې مدرس؛ په ۱۹۶۱ز کال کې پوهنوال؛ په ۱۹۶۵ز کال کې پوهاند. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل پوهنتون منتخب رئـیس. د پوهنتون د استاتیدو ببرنی غونډه ئـې راوبلله چې د کابل په پوهنتون باندې د پولیسو برید وغندي. یو ۱۷ کسیز کمیسیون وټاکل /انتخاب سو چې په دولت باندې ادعا وکړي او پوهاند پژواک په دې کار کې مرسته وکړه. همدغـهٔ کار د پوهنتون د استادانو د اتحادیې جوړیدلو ته زمینه مساعده کړه. په ۱۹۷۳ز کال کې د لشکر ګاه (اوس هلمند – ژ) والي. په ۱۹۷۵ز کال کې د کورنیو چارو د وزارت د پلان جوړوني رئـیس. په ۱۹۷۷ز کال کې د پلان سرپرست وزیر. په ۱۹۷۸ز کال کې بیرته د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استادۍ ته راوګرځید. ویل کیږي چې د شوروي د ۱۹۸۰ز کال یرغل ئـې سخت غندلی دئ؛ او د پوهنتون د استادانو د مخفي اتحادیې د غړي په توګه د دریو میاشتو لپاره زنداني سو؛ د پوهاند پژواک زنداني کیدل ددې لامل سول چې حکومتي ضد شپې پاڼې/ شب نامې ولیکل سي او وویشل سي. په ۱۹۸۳ز کال کې د صحي معاذیرو له کبله له زندانه آزاد سو.

## ډاکټر نعمت الله پژواک

(د استاد عبدالرحمٰن پژواک ورارهٔ اوزوم) په ۱۹۲۸ز کال کې د ننګرهار په سرخرود کې زیږیدلی دئ. د حبیبیې په لیسې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې ئـې تحصیلات تر سره کړي دي. په ۱۹۵۴ز کال کې ئـې د کولمبیا له پوهنتون څخه خپله ماستري او دکتورا د ښووني او روزني/ تعلیم او تربیې په برخې کې ترلاسه کړې. په ۱۹۵۴ز کال کې د معارف د وزارت د ابتدائـي تدریساتو د ریاست غړی. په ۱۹۵۶ز کال کې د دارالمعلمینو مدیر. په ۱۹۵۸ز کال کې د حبیبیې د لیسې مدیر. په ۱۹۶۵ز کال کې د معارف د وزارت د ثانوي تدریساتو د ریاست رئـیس. په ۱۹۶۸ز کال کې په مسکو کې د افغان سفارت کلتوري اتشه. د معارف د وزارت د تألیف او ترجمې د ریاست رئـیس. په ۱۹۷۰ز کال کې د بامیانو والي. په ۱۹۷۱ز کال کې د کابل والي. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کورنیو چارو وزیر. په

6 -Franklin Book programs



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په څیر و لولـئ

۱۹۷۳ز کال کې د معارف وزير. د ۱۹۸۱ز کال د جنورۍ د مياشتې له لومړۍ د صدارت عظمی سلاکار/ مشاور. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## صالح محمد پيروز

د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د ټولګټو وزارت مرستيال وزير. په ۱۹۷۸ز کال کې له دستګير پنجشيري وروسته د ټولګټو/ فوايد عامې وزير.

**نور بيا**

## سيد مسعود پوهنيار

د عدليې د پخواني وزير، مير سيد قاسم خان زوی په ۱۹۱۵ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ